


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیبرالیزم پر ضد

مائوتسه دون

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د لیبرالیزم پر ضد**

مائوتسه دون

ژباړه:نوید

سمون:زیړ افغان

برېښنايي خپرېدنه او بیا کتنه: مرغومی۱۴۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لیبرالیزم پر ضد

موږ د فعالې ایډیولوژیکې مبارزې پلویان یو، ځکه چې دغه مبارزه هغه وسله ده، چې په انقلابي ګوند او سازمانونو کې دننه زموږ د جګړې په ګټه یووالی تضمینوي. دغه وسله باید هر کمونیست او هر انقلابي په لاس کې ولري.

خو لیبرالیزم ایډیولوژیکه مبارزه نه مني او د غیر اصولي سولې او هوساینې سپارښتنه کوي، له دې کبله د یوه منحط او مبتذل کړندود د رامنځ ته کېدو لامل ګرځي، او د ګوند انقلابي سازمانونو کې ځینې واحدونه او کسان سیاسي فساد ته کاږي.

لیبرالیزم په بېلابېلو بڼو څرګندېږي:

کله چې په روښانه توګه څرګندېږي، چې یو چا تېروتنه کړې، خو بیا یوازې له دې امله، چې هغه یو آشنا، یو وطندار، یو هم ټولګی، یو خوږ دوست، یو ګران ملګری، یو هم چاری، یا یو پخوانی تر لاس لاندی کس دی، له هغه سره د اصولي بحث څخه ډډه کول، د سولې او دوستۍ د ساتلو لپاره چارې په خپل حال پرېښودل، یا د نېکو اړیکو ساتلو لپاره د مسایلو د پرېکنده حل پر ځای له هغو سره د سرسړي چلند غوره کول. پایله به یې دا شي، چې هم ډله لطمه ووینې او هم د پام وړ کس – دا د لیبرالیزم د څرګندېدو لمړۍ بڼه ده.

د افرادو شاته د مسئولیت له احساسه پرته پر هغو نېوکه کول؛ تشکیلاتو ته په فعال ډول د خپلو وړاندیزونو نه وړاندې کول؛ د اشخاصو په شتون کې د هغو په اړه د خپل نظر له ویلو څخه ډډه کول، خو تر شا یې خبرې کول؛ په غونډو کې له خبرو څخه ډډه کول خو تر غونډې وروسته خورا ډېر غږېدل؛ د ګډ ژوندانه د اصولو په اړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بې پروا اوسېدل او ځان له لتې او بې بندوبارۍ سره عادتول ـ دا د ليبراليزم د ځرګندېدو دوهمه بڼه ده.

هره چاره، چې شخصاً په ځان پورې تړاو نلري، د پېښنو لاس ته سپارل؛ د يوه مطلب د ناسمتيا په اړه د بشپړې خبرتيا سره سره د هغه په اړه د امکان تر بريده له نظر ورکولو څخه ډډه کول؛ په چالاکۍ سره د ځان ساتل او يوازې ځان له تېروتلو څخه ژغورل – دا د ليبراليزم د ځرګندېدو دريمه بڼه ده.

له اوامرو څخه سرغړول، او خپل اندونه پر هغو غوره ګڼل؛ له تشکيلاتو څخه د بې ځايه تمو لرل، خو په تشکيلاتي انضباط هېڅ نه پوهېدل – دا د ليبراليزم د ځرګندېدو څلورمه بڼه ده.

د دې پر ځای چې د وحدت يا پرمختګ يا په سم ډول د کار د تر سره کولو لپاره مرسته وشي او يا بحث تر سره شي او د ناسمو اندونو پر ضد مبارزه وشي د يووالي او پرمختګ او يا د چارو د نظم او ترتيب لپاره د مبارزې او جګړې پر ځای، په شخصي بريدونو لاس پورې کول، د دنګلو او مرافعو په لاره اچول، خپله کرکه او غليمتوب بربنډول او غچ اخېستل – دا د ليبراليزم د ځرګندېدو پنځمه بڼه ده.

د ناسمو اندونو له اورېدو وروسته، هغه ناسم نظرونه، چې تر غوږه کېږي، نه ردول، او ان د انقلابي ضد عناصرو اندونو ته غوږ کېدل، خو د هغو په اړه ګزارش نه ورکول، له هغو سره په سړې سينې داسې چلند کول، چې ګواکې اصلاً څه پېښ شوي نه وي – دا د ليبراليزم د ځرګندېدو شپږمه بڼه ده.

د ولسي پرګنو په منځ کې اوسېدل، خو له تبليغ او هڅوني ډډه کول، په غونډو کې خبرې نه کول، څېړنه نه کول، د پرګنو د وضعې په اړه نه پوښتل، د پرګنو کړاوونو ته نه رسېدل، د پرګنو په وړاندې بې توپيره پاتې کېدل؛ د دې خبرې هېرول، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی یو کمونیست دی او په پای کې د کمونیست گوند یو غړی له معمولي کسانو سره یو شانول– دا د لیبرالیزم د ځرگندېدو اوومه بڼه ده.

د هغو کسانو کړنو په وړاندې، چې د پرگنو گټې تر پښو لاندې کوي، نه غوسه کېدل، تذکر نه ورکول، د هغه مخه نه نیول، او منطق او دلیل نه ویل، بلکې د هغه مخه پرانیستې پرېښودل – دا د لیبرالیزم د ځرگندېدو اتمه بڼه ده.

په جدیت سره کار نه کول، ځانگړې برنامه یا تاکلی لور نه لرل، بلکې کارونه خدای ته سپارل او په سرسري ډول ترسره کول – «تر هغو چې سړی راهب دی، کار یې د زنگ وهل دي» - دا د لیبرالیزم د ځرگندېدو نهمه بڼه ده.

ځان داسې شخص گڼل، چې د انقلاب لپاره یې گران بیه کارونه تر سره کړي دي، په خپل تېر وخت نازېدل، د لږ اهمیته کارونو په غاړه اخیستلو ځخه ډډه کول، خو د مهمو دندو د تر سره کولو وړتیا نه نلرل، په کار کې لاپروایي او په زده کړې کې لټي ښودل – دا د لیبرالیزم د ځرگندېدو لسمه بڼه ده.

په خپلو تېروتنو پوهېدل، خو د هغوی د سمون لپاره هڅه نه کول، د ځان په اړه لیبرالیستي چلند غوره کول – دا د لیبرالیزم د ځرگندېدو یوولسمه بڼه ده.

البته نور اړونده ډولونه هم شمېرلای شو، خو دغه یوولس مادې یې عمده ډولونه دي.

په یوې انقلابي ډلې کې لیبرالیزم یوه ډېره زیانبخښونکې ښکارنده ده. لیبرالیزم د وینې په ځېر یو موټی توب او یووالی په تدریجي ډول له منځه وړي، اړیکې شلوي او د نافعالتیا او د نظر د اختلاف لامل گرځي. لیبرالیزم د کلکو تشکیلاتو بربادونکی او د صفوفو ترمنځ د پولادیز انضباط له منځه وړونکی دی، د سیاسي لارښوونو د بشپړ تر سره کولو مخه نیسي او په پای کې گوندي سازمانونه له هغو پرگنو ځخه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د ګوند تر لاربښوونې لاندې دي، جلا او لېرې کوي. دا يو بې ساری بد چلند دی.

ليبراليزم د کوچنۍ بورژوازي له ځان غوښتنې څخه سرچينه اخلي، چې شخصي ګټې د انقلاب پر ګټو غوره ګڼي.دا په خپله د ايډيولوژيک، سياسي او تشکيلاتي ليبراليزم د سر پورته کولو لامل ګرځي.

ليبرالان د مارکسيزم آرونو ته د وچو تجريدي دُګمو په سترګه ګوري. هغوی مارکسيزم مني، خو چمتو نه دي چې هغه پلی کړي او يا يې په بشپړه توګه يې پلی کړي. هغوی چمتو نه دي، چې مارکسيزم د خپل ليبراليزم ځايناستی وګرځوي. دغه کسان هم د خپل ځانګړي مارکسيزم خاوندان دي او هم خپل ليبراليزم ساتي – دوی د مارکسيزم غورې وهي، خو د ليبراليزم په طريقې عمل کوي. د نورو په هکله مارکسيزم کاروي، خو د ځان په هکله ليبراليزم. د دوی په پنډکي کې همه دا شته او هم هغه، او هر يو د کارولو ځانګړی ځای لري. دا د ځينو کسانو د تفکر طريقه ده.

ليبراليزم د اپورتونيزم د ځرګندېدو يوه بڼه ده، او له بنسټه له مارکسيزم سره په تضاد کې دی. ليبراليزم يوه منفي ښکارنده ده، چې اغېزه يې په عيني توګه له غليم سره مرسته ده، له همدې کبله دښمن زموږ په منځ کې د ليبراليزم له شتون څخه خوشالېږي. دا ده د ليبراليزم منځپانګه، ليبراليزم ته د انقلاب په ليکو کې په هېڅ ډول ځای نشته.

موږ بايد د مارکسيزم د مثبتې روحيې په رڼا کې پر ليبراليزم، چې منفي دی، برلاسي شو. يو کمونيست بايد مخامخ، صادق او فعال وي، د انقلاب ګټې بايد تر خپل ځان څخه لا ارزښتمنې وګڼي او شخصي ګټې بايد د انقلاب د ګټو تابع کړي، بايد تل او په هر ځای کې پر سمو آرونو ټينګار وکړي او د هر ډول ناسم اند او کړنې په وړاندې په نه ستړې کېدونکې توګه مبارزه وکړي، چې د ګوند ګډ ژوند پياوړی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پرگنو سره د گوند اړیکې نورې هم غښتلې کړي؛ هغه باید گوند او پرگنو ته تر هر چا ډېره پاملرنه ولري، نورو ته باید تر خپل ځان څخه زیاته پاملرنه وکړي. یوازې په دې ډول هغه یو کمونیست نوملای شو.

ټول وفادار، رښتیني، فعال او شریف کمونیستان باید د ځینو کسانو د لیبرالي چلند پر ضد د مبارزې لپاره سره یو شي، او هڅه وکړي هغوی سمې لارې ته راولي. د ایډیولوژیکې مبارزې په مرچل کې زموږ له دندو څخه یوه دنده دا ده.

د سپټمبر اومه، ۱۹۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیبرالان د مارکسیزم آرونو ته د وچو تجریدي دُګمو په سترګه ګوري. هغوی مارکسیزم مني، خو چمتو نه دي چې هغه پلی کړي او یا یې په بشپړه توګه یې پلی کړي. هغوی چمتو نه دي، چې مارکسیزم د خپل لیبرالیزم ځایناستی وګرځوي. دغه کسان هم د خپل ځانګړي مارکسیزم خاوندان دي او هم خپل لیبرالیزم ساتي –هغی د مارکسیزم غوږې وهي، خو د لیبرالیزم په طریقې عمل کوي. د نورو په هکله مارکسیزم کاروي، خو د ځان په هکله لیبرالیزم. د دوی په پنډکي کې همه دا شته او هم هغه، او هر یو د کارولو ځانګړی ځای لري. دا د ځینو کسانو د تفکر طریقه ده.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**